

# آیا په دې وروستیو کې مو له یوځای څخه بل ځای ته کډه کړې؟

## د امریکا متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ خدماتو دفتر (USCIS)
## مهمې اطلاعیې او اسناد له لاسه مه‌ورکوئ

که تاسو داسې یو افغان تبعه یاست چې د متحدانو د هرکلي عملیاتو (OAW) په ترڅ کې مو په متحده ایالتونو کې مشروط اقامت ترلاسه کړی، په مهربانۍ سره د خپلې پتې بدلون په صورت کې د امریکا متحده ایالتونو د اتباعو او کډوال خدماتو دفتر (USCIS) ته خبر ورکړئ څو ډاډ ترلاسه شي چې تاسو د امریکا متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ خدماتو دفتر ټول مکتوبونه لکه اعلامیې او د کار جواز سندونه له ځنډ پرته ترلاسه کوئ. ستاسو د فزیکي پتې په اړه معلومات د مشروط اقامت ترلاسه کولو یو شرط دی. هر ځل چې مو موقعیت له یو ځای څخه بل ځای ته بدلوئ، د خپلې نوې پتې په اړه مو د 10 ورځو په ترڅ کې د امریکا متحده ایالتونو د اتباعو او کډوال خدماتو دفتر ته خبر ورکړئ، حتی که یو لنډمهاله ځای ته هم کډه کوئ، د خپلې پتې په اړه ریپورټ ورکړئ . که د 10 ورځو په ترڅ کې مو د خپلې نوې پتې په اړه ریپورټ نه‌وي ورکړی، نو په مهربانۍ سره ژر تر ژره د امریکا متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالو خدماتو دفتر ته معلومات ورکړئ.

**1 قدمه:** له uscis.gov/ar-11 ویب پاڼې څخه لیدنه وکړئ او په **آنلاین ثبت** باندې کلیک وکړئ.

**2 قدمه:** د پتې بدلون پاڼه ولولئ او د پاڼې لاندې برخه کې دوام باندې کلیک وکړئ.

**3 قدمه:** دغه پوښتنه ځواب کړئ « آیا د کډوالۍ اړوند غوښتنلیک او عریضه مو ثبت کړې او تر اوسه مو اطلاعیه، کارت یا د تصمیم نیونې سند نه دی ترلاسه کړی؟»

- که د ځنډ په حالت کې دوسیه لرئ، د **هو** برخه انتخاب کړئ.
- که د ځنډ په حالت کې دوسیه نه‌لرئ د **نه** برخه انتخاب کړئ.

**4 قدمه:** د (AR-11) آنلاین فورم ډک کړئ. تاسو به لاندې مواردو ته اړتیا ولرئ:

- ستاسو په اطلاعیه کې د رسید شته شمیره ( یوازې هغه مهال چې ستاسو دوسیه تر پلټنې لاندې وي)؛
- پخوانۍ او نوې پته؛ او
- د بریښنالیک پته.

**5 قدمه:** په آنلاین برخه کې د خپلو مندرجو مطالبو پلټنې لپاره **استول** برخه کلیک کړئ.

یادداښت: که چېرې د ګمارنې جواز سند د نه رسید یا نه ترلاسه کولو په اړه ریپورټ ته اړتیا لرئ، په uscis.gov/e-request ویب‌پاڼه کې د امریکا متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ خدماتو دفتر ته یو آنلاین استعلام واستوئ.

که تاسو رسید نه‌لرئ یا پتې بدلون غوښتنلیک په اړه ستونزه یا پوښتنه لرئ nbcafghancoa@uscis.dhs.gov پتې څخه د امریکا متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ خدماتو دفتر ته بریښنالیک واستوئ. یوازې هغه مهال له دغې بریښنایي پتې څخه استفاده وکړئ چې په افغانستان کې د انسانې ناورین له امله د 2021 کال د جولای په 30 یا له هغه وروسته متحده ایالتونو ته راغلي یاست. همدارنګه کولای شئ 800-375-5283 شمېرې سره اړیکه ونیسئ او یا د امریکا متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالو خدماتو دفتر د اړیکو مرکز څخه لیدنه وکړئ.

که د خپلې پتې په اړه په آنلاین بڼه معلومات ورکوئ، اړ نه یاست ترڅود AR-11 فورم له پست له لارې واستوئ. د پتې آنلاین بدلون په ساده، چټکې او اسانه توګه ترسره کیږي.

د امریکا متحده ایالتونو د پستي خدماتو دفتر( USPS) کې د پتې بدلون به د امریکا متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالو خدماتو دفتر سره ستاسو پته بدله نه‌کړي. په مهربانۍ سره خپل معلومات د امریکا متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالو خدماتو دفتر او د پستي خدماتو مرکز سره شریک کړئ.

د لازیاتو معلوماتو لپاره د افغان اتباعو لپاره د امریکا متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ خدماتو دفتر د اطلاعاتو برخې ته په دې پته uscis.gov/allieswelcome مراجعه وکړئ.

U.S. Citizenship
and Immigration
Services